


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

|||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

دکتاب نـــــــوم : ښکلې دنيا

لـيکــــــــــــوال : شهزاده "شيرين زوی"

دچـــاپ کـــــال : ۱۳۸٤

دچاپ شمېــــــر : زر (۱۰۰۰) ټوکه

بـــــيـــــــــــه : ۲۵-افغانۍ

کمـپـــــــــــوزر : شاهين "شيرين زوی"

دترلاسه کولوځای : ميرويس کتاب پلورنځی

)بورډ،ناصرباغ سرک،لومړۍ کوڅه،درېيم اوڅلورم دوکانونه(

دچــاپ حـــقــوق خـــــونــــــــدي دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اهداء

دخپــل پــــلارسپېڅـلـــي روح ته،چې پــرجــدايـۍ يې ممتازنه شهزاده بهرام اوبيايې شيرين زوى كړم زانگو ، تخت او پالنگ ځينې پوزي ته نصيب راوړم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فکر، خیال او ذوق

ګرانولوستونکیو!انسان که هرڅومره دقیقه څېړنه،پلټنه اوکتنه وکړي،نوبیابه هم یوتوکی له بل سره په ټولو خصوصیاتو کې یورازونه ویني۰

څښتن تعالی هرڅه ته خپله،خپله ځانګړتیا ورکړې،دهرې ونې مېوه خپل رنګ او خپل خوندلري اودهربوټي له بل سره ځانګړی توپیروي۰

دشولواوغنموبوټي لکه شمله ورافغانان په سر کې وړي نیسي،دالوګانو بوټی لکه ښامارپرخزانه پروت وي اودجوارو بوټي لکه هیله منه ښځه خپل بارته په خپله خېټه کې ځای ور کوي۰

دغه توپیرنه یوازې دنباتاتوترمینځ لیدل کېږي بلکې په ټول کاینات کې وجود لري؛کاینات څښتن تعالی دانسانانود ګټې لپاره پیداکړي،خوداچې انسانان هم په خپلوکې توپیر لري،نوڅوک ترې ډېره ګټه اخلي اوڅوک لږه۰

په انسانانوکې دتفاوت ډېرلاملونه دي،خو دلته یې مونږد فکر،خیال اوذوق پرتوپیرغږېږو۰

څښتن تعالی هرانسان ته فکر،خیال اوذوق ورکړی،خوچا ته یې عالي فکر،عالي خیال اوعالي ذوق ورکړی اوچاته یې

ادناچــــا ته یې لږاوچا ته یې ډېر۰

دکم اوزیات،ښتلي اوناغښتلي فکر،خیال او ذوق خاوندان ټول دهمدغوتوکیو پرملتیا خپل ژوند تېروي۰ دژوند هرلوري ته دخیال پر وزرو الوځي اود فکرپرعصا ور روانېږي۰

فکراوخیال دانسان د خودۍ اوهوښیارۍ سترګې دي اود همدغو سترګو په واسطه دښه اوبدتوپیرکوي۰

خبره نه اوږدوم،البته دومره وایم،چې دفکر، خیال اوذوق دغه تفاوت چې په عاموانسانانو کې شتون لري،شاعراو لیکوال هم ترې بې برخې نه دی۰

هیڅ شاعراولیکوال نشي کولی،چې دخپل ذوق پراساس یوې لیکنې یاشعرته داسې معیار وټاکي،چې دهرچا د ذوق استازیتوب پرې وکړای شي اوپایه بله وینا،چې هرڅوک یې ورسره همغه رازومني کوم چې هغه منلی وي۰البته ورته ذوقونه به وي،خومونږ ته ښایي،چې درنډوپرڅېردبل پراووړې لاس ایښی دخپل منزل پرلوري ولاړ نشو۰

مونږبايد دهرشاعراولیکوال پرهنري هڅې د خپل فکر خیال اوذوق پراساس قضاوت وکړو نه د کوم بل ښاغلي پر هغې سریزې اومقدمې،چې دچاپرکتاب یې کښلې وي:- ((ډېر ښه شعرونه یا نثرونه دي) )-: ځکه،چې ((دنیا پــــرخپلو

سترګولیدل کېږي))۰

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سريزې يامقدمې کښوونکي که هرڅومره ريښتينی قضاوت کړی وي بياهم شونې نه ده،چې ارومرو به زمونږله غوښتنو سره کټ مټ برابروي؛ځکه، چې ذوقونه توپيرلري٠ يوشاعرويلي -:

دچابه شنې سترګې خوښېږي دچاتورې...

که مونږيونالوستی کتاب دسريزه کښوونکي پرهغه معيار ومنو،چې هغه منلی؛نودستاينې يا نيوکې پروخت ښايي له دې پوښتنې سره مخ شوو ،چې څه خوبۍ ياخامۍ لري؟؛نوله مونږسره به له دې پرته،چې ووايو پلاني صاحب پرې ډېره ښه ليکنه کړې؛ ډېرښه يې ستايلی،بل ځواب نه وي٠

خوکه پوښتونکی ووايي،چې دپلاني صاحب، خو ((کرت)) ډېرخوښېږي، آيا ستاسوهم خوښ دي که څنګه؟٠

ستاسوځواب پرتاسو،خوزماځواب به هغه دچا خبره وي چې:-((زه،خودجلادخان ورورېم پر کرتواوغوړيوڅکه هم نه کوم))٠

په درنښت

شهزاده"شيرين زوی"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پسرلی پاچا شو!

دکال څلور واړه موسمه لکه څلورسیاسي سیالان په توده سیالۍ دکایناتو ډګر ته پر دې غرض راووتل ، چې د انسانانو پر ذهنونواوذوقونو خپل ځانونه ومني اودزړونو په هېواد کې دبادشاهۍ مقام تر لاسه کړي،چې دهمدغه پلان دپلي کېدو لپاره دوبي (اوړي )دمچانو،میاشواو غومبسو الوتکې ؛د مېږتنو،لړمانواوغونډلانو،شوبلې؛د سمسرواو مارانواوږده،اوږده ټېلر(ترېلې )اودزوروري ګرمۍ ګوریلایي لښکر له ځان سره راوست اوپه شنه زور یې خپل ځان پر خلکو وروتپه،چې زړونه اوذوقونه یې دنه منلوپرغرض لا تر اوسه بېړنۍ مظاهرې او لاریونونه کوي٠

مني(خزان )له راتللوسره سم دښکلاګانواو رنګینیوپه وژلو لاس پورې کړ اولکه وحشي چنګېز یې دښکلیو ښکلیو ګلانواوښایسته ښایسته شنو پاڼوجنازې رواڼې کړې؛ونو او بوټو ته یې دخړو خاورو رنګ ورکړ اود مساوات غوښتونکي په توګه یې ټوله نړۍ یوډول خړه پړه کړه خو زړونواوذوقونو ته یې لاره ونه مونده٠

سړمنی (ژمی ) له بادونو،بارانونو،واورو،ږلیواوله سختې یخنۍ سره راغی٠که څه هم خلکو د ټینګار په توګه تاوده کالي،څادرونه،کمبلې اوبړستنې واغوستې،خوخپلې غېږې یې ورته خلاصې نه کړې٠

پسرلي(بهار)پرخپل راتګ دښتوته رنګینې لوپټې ډالۍ کړې؛پرغرو او رغو یې ګلونه وشیندل،ونې اوبوټي یې ګلغونچې کړې اوانسانانوته یې دمینې،محبت،رنګونو، خوندونو،جوش اوجذبو پیغامونه له ځان سره راوړل ٠

خلکو،چې دپسرلي پر زړه پورې اوګټورکارونه ولیدل،نو دښکلا انځورګرانو(شاعرانو اولیکوالانو) پرخپلو لیکنو ولمانځه؛سیندونه ورته له خوشحالۍ پر نڅاشول،طوطیانو او بلبلانو ورته دهرکلي پرسندرو پیل وکړ،زړونو اوذوقونو د منښت رایې ورکړې،پسرلی پاچاشو اوپرخپلو سیالانویې ومنله،چې ((انسان داحسان تابع دی)) او ((پر زور کلي نه کېږي((٠

{شهزاده"شیرین زوی "کاوون جریده : لومړی کال ، شپږمه ګڼه ، ۱۳۸۲ ل هـ کال- زمری}

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انسان دگیاه په بڼه

هغه شپه،چې دخونې له څلورو دېوالونوپرته مې نورهېڅ نه لیدل،نه ستوري وه اونه سپوږمۍ،د دیوالي گړۍ ټک ټک ته غوږ غوږ اودخراغ تتې رڼا ته سترگې سترگې پرخپلې بسترې پروت وم۰ذهن ته لکه دشاتو مچۍ بلافکرونه تلل او راتلل۰دخیال مرغه مې ددنیا اوعقبا پرغرونو الوتنې کولې،د خوب ښاپیرۍ لکه حیاناکه پېغله دشوگیر له وېرې نه راتله،خوزه ورسترگې په لاروم،چې ناڅاپه د انسانیت پټ اوښکاره دښمن دخپلو موریدانو داخرگندونه،چې ((انسان لکه گیاه پیداکېږي اوپنا کېږي ـ نه جنت شته اونه دوزخ))دیوې تورمخې ښځې پربڼې زمادزړه انگړته راوستله۰

دزړه کورته ددغې تورمخې ښځې په راتلودخونې کوربه چې ایمان نومېده دمخنیوی پرغرض راپورته

شواودهغې په مخ کې لکه غر ودرېده۰ هغه نه غوښتل چې هغه تورمخې ښځه زمادزړه سپېڅلې خونې ته ننوځي،خوددغې نظریې،چې((انسان لکه گیا۰۰۰))دلرونکیو پیردومره مکارو،چې حضرت ادم (ع ) او بي بي حوايې له جنت څخه کوچېدوته اړکړل۰

هغه پرخپلو مکرونوخپله تورمخې زمادزړه په خونه کې میلمنه کړه اوزه یې دڅېړنې سوداپسې د فکربازارته واستولم۰مادتصورسترگۍ(عینکې ) پرسترگوکړې اوانسان مې دگیاه پربڼې وڅېړلو۰

هغه له یو واړه زړي څخه پیداشو،دځمکې تیونه یې ورودل اودبادپه څانگوکې ځنگېدو؛چې لږ غټکی شو،د ویالې شېدې یې څښلې اودلمر ډوډۍ یې خوړله۰صورت یې مخ پرغټېدو اوعمر یې مخ پرکمېدو روان و۰دپسرلي ځواني پرې راغله،وخت پر وخت پرې دبارانونو خوشحالۍ اودطوفانونو غمونه راتلل۰دخزان زړښت یې لاپاڼه نه وه ژېړه کړې، چې یو بزگر ورته لکه دمرگ پرښته راغی او د لور پر اجل یې ورته دروح اوتن اړیکې پرې کړې۰د ځنکدن ترخه یې پرې وڅکل،دخپل څادرپه کفن کې یې ونغاړه اودخپل کاله ادېرې کې یې دبوساړې په تورلحدکې کېښوده۰

هغه په خپل نوي اونا اشنا کورکې دتیارو په غېږه کې پروت و؛نه یې دوتلو لاره وه اونه پرې ددنیا هوالگېده،خوکله چې موسم لکه اسرافیل( ع ) شپېلۍ پوکړه اودمني محشر پرې راغی،نوله خپل قبرڅخه راپورته کړای شو،خودنیاهغه ډول نه وه چې ده لیدلې وه۰یوشین بوټي هم نه و ټول ده ته ورته له قبرونو راوتلي وه اودخپل راتلونکي میزان ته هک پک پاتې وه۰ځینې یې لکه له گناه ډک د نغریو اوتنورونو دوزخونو ته اوځینې یې دڅارویو د خېټو دوزخي کندوته پرراکښلوراکښلو وړل کېدل ،خو ځینې نورلکه نیک عمله مومنان له دغو دوزخونو خوندي پاتې کېدل اودهوا مرغان به لکه درحمت پرښتې راتللې دوی به یې په خپلو منگولو کې دباغونو اوگلبڼونوجنتونوته وړل اوهلته به یې لکه دعمل برابر مقام چې ورکوي،ځینې به یې دونو په لوړوڅانگو کې اوځینې به یې دگل بوټو په منځ کې کېښودل۰دپرخو حورې اودشبنمو غلمان به یې پرته لیدل، دنرگسو ورمې به پرې لکه دجنتیانو ارگمي لگېدل اودتاکونوله سترگو به پرې شراب څڅېدل۰

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماچې انسان دګیاه پربنې هم په دوزخ اوجنت کې وځېړلو،نودفکر له بازاره ډېرپه بېړه راستون شوم ، چې هغه تورمخې ښځه دخپل زړه له خونې ځخه ورټم،خوهغه لکه مارخوړلې په زړه بیداره وه اوزما تر رټلو یې دمخه پښې سپکې کړې وې.

شهزاده"شیرین زوی"ورځ مجله:ځلورم کال، پنځمه ګڼه ۱۳۸۳ل هجري: وری اوغویی پرله پسې ۲۵ ګڼه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هېنداره!

له ماهېنداره ورکه وه؛ماخپل ځان نه لیده؛ماچې هغه په کوم دېوال اودکومې دروازې ترڅنګ لیدلې وه، هغه دېوال نړېدلی اوهغه دروازه نه وه ۰

زه لکه دلېونیانو میر، ببر سراوڅېرې ګرېوان ګرځېدم،ماته د ورکې هنداري اندېښنودغمونو اغزن لباس اغوستی و۰ژوندمې دلېوني زړه له لاسه دزهرو په پیاله کې پرېوتی و۰زماپرخفګان هرڅه خپه خپه ښکارېدل،خو(( بده ورځ ورور نه لري)) نه یې غوښتل،چې له ماسره دزهرو پیاله غړپ کړي،خوشحالي راته نېږدې نه راتله اوخندامې سیوری پرډېرو ویشتو؛ستورو راته حیران حیران کتل اوسپوږمۍ به لکه هغه پېغله،چې له خپله یاره بېله شوې وي دخپلې رڼااوښکې دورېځوپه لوپټه پاکولې؛مابه،چې هرڅلالرونکی توکی ولید، نو ورمنډه به مې کړه،خوهغه به زماهېنداره نه وه۰

مادهغې پرهکله دسحروږمې پوښتلې،خوهغوی به لکه ګونګۍ ماشومانې ترخوارانه غلې غلې تېرېدې اوهېڅ ځواب به یې نه راکولو۰ماپه ورکې هېنداري پسې ډېرې لارې اوکوڅې ولټولې،له ډېرو دښتومې په خپلو پښوکې اغزي راوړل،خودهرې هڅې پایله به مې هغه پښتو لنډۍ وه،چې :

لادې یوکال ژړلي نــــه دي -- دومره اسانه خولګۍ کله درکومه

مادکال ژړاته ملا تړله،چې هغه له لرې دیو چاپه لاس کې وځلیده؛دزړه مرغه مې دسینې په پنجره کې له خوشحالۍ پرترپکو شو،په بېړه ورنږدې شوم،ډېرمې ور وکتل،خوخپل ځان مې په کې ونه لیدو؛سترګې مې وموښلې بیامې وروکتل۰هغه هماغه هېندار وه،خود واده پرنکریزو رنګ اودیو زلمي انځور پرې لګېدلی و۰

{شهزاده"شیرین زوی"ورځ مجله: څلورم کال،شپږمه ګڼه۱۳۸۳ل هـ -غبرګولناوچنګاښ- پرله پسې،۲٦ګڼه}

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ونه

ونه په ځانګواوښاخونو ونه وي٠چې ځانګې او ښاخونه یې نه وي،مېوه اوسیورى ونه لري،نو څرګنده خبره ده چې خلک یې ونه نه،بلکې دونې ډډیې بولي٠

دونې بې ښاخه اوبې ثمره ډډهغه انسان ته ورته وي،چې نوریې له مجبورۍ څخه ګټه اخلي،خوهغه دخپلې بې وسۍ پرسبب دهېڅ ډول سرغړونې توان نه لري٠یعنې خلک یې دسوځولو له پاره داسې ماتوي لکه قصاب چې پرتبردځاروي هډوکي ټوټه ټوټه اوسپک سپک کوي٠څوک یې لکه ګنی سپینوي اودخونې چت پرې پوښي،خوڅوک چې غواړي کړکۍ اودروازې ترېنه جوړې کړي ؛نو هغوى یې په لویه اره،اره کوي،ترکاڼ ته یې وروړي،ترکاڼ هغه پر رندې تراشی اوبیایې په

سکینجه کې داسې نیسي لکه مړي ته چې ځمکه په قبرکې عذاب ورکوي نو بیا ورته کښته اوپورته ګوري ،چې یوه تخته بلې ته داسې ورنږدې شوې وي،چې ددوه تختوترمنځ دیوویښته پراندازې تشه هم نه وي،نوبیا پرې په داسې ډول مېخونه ټکوهي لکه ځینو چې دځینو پر سرونو ټکوهل ٠

معناداچې،دونې له ډډڅخه انسان پرخپله خوښه خپله اړتیا پوره کوي؛ځکه،چې هغه دځان ژغورنې له پاره هېڅ نه لري؛نه ښاخونه لري اونه هم سیورى او مېوه،خوکه همدغه ډډ،ونه وي یعنې شاخونه، سیورى اومېوه ولري؛نوبیا،خو((زه له تاځاراوته له ما))که څوک ترې مېوه اخلي؛نووخت پروخت به یې پراوبو پالي اودنوروله ډېروبه یې هم ژغوري٠که څوک یې یخ سیوري ته له سوځونکیوغرموپناه ور وړي؛نودکړولو پرځاى به یې د ښېرازۍ هڅه کوي٠

انسان هم بایدهغې ونې ته ورته شي،چې ځانګې

اوښاخونه یې لکه یاران اودوستان وساتي اونوریې له یوازیتوب څخه ناوړه ګټه وانه خلي٠

انسان بایددعلم مېوه ولري،چې دنوروګټه ده ته اودده ګټه نوروته ورسېږي٠

انسان بایددهنرپرسیوري نورله سوځوونکیو غرمو وژغوري اوځان دنوروله ضرره خوندي کړي٠

انسان دې له ډډکېدنې ډډه وکړي٠که نه،نود بدمرغیو پر ارې به اره اوپرتبربه سپک سپک پروت وي٠

{شهزاده" شیرین زوى "ننګ جریده - دویم کال- دویمه ګڼه - مرغومي-۱۳۸۳- ل هـ}

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## توره او سپینه

دعمرله پلوه دواړه همځولې ښکاري،خودصورت له پلوه کله سپینه اوږده اوتوره لنډه ګڼل کېږي اوکله تورې ته لویه او سپینې ته وړه ویل کېږي٠دسپینې پرتندي داسې ځلالرونکی خال دی،چې لکه څراغ ترې هرخوارډاخورېږي٠توره اوسپینه سهاراو ماښام دلږ وخت له پاره سره یوځای کېږي٠ماښام توره پرسپینې تورڅادرغوړوي اودخلکوله نظره یې پټه وي،خوسهار بیادسپینې خال وځلېږي اودخلکو مخ ته نېغه ودرېږي٠دتورې اوسپینې دغه لوبه هرڅوک ویني،خوهر څوک یې پرمعنی نه پوهېږي٠ځینې، خو د تورې او سپینې توپیر ځکه نشي کولای،چې د سترګوله نظره بې برخې دي،توره هم ورته توره ده او سپینه هم ،خوځینې دسترګوپه شتون کې هم د تورې او سپینې ترمنځ تفاوت نه شي کولای٠

دربیم ډول هغه وګړي دي،چې پردغې لوبې ډېرښه پوهېږي٠دغه وګړي دنوروپه پرتله لږکي دي ، خودغه لږه کې هم ټول یومخ یورازنه دي،ځینې داسې دي چې دتورې او سپینې پرکړو وړو پو هېږي ،خو نورددوی دکړنې پرمعنی نه شي پوهولی او ځینې داسې دي،چې خپله هم پوهېږي اونوروته هم دتورې اوسپینې روان کردارته دځیرنې بلنه ورکوي .

دوی دتورې اوسپینې دغه لوبه بې معنی نه ګڼې، ددوی په تلواوراتلوخپله هم ادېښمن دي اونوروته هم وایې چې بې پروایي به نه کوئ؛ځکه،چې دغه توره اوسپینه دلوی پاچا پرحکم هرانسان ته دخپلې برخې ټول توکي وخت پر وخت دیوه توکي په بدل کې راوړي٠که انسان دغه توکي غواړي اوکه یې نه غواړي،خودوی یې ورته راوړي؛نوانسان بایددهغه وخت له پاره فکر وکړي،چې دغه توره اوسپینه،چې شپه اوورځ نومېږي ورته دخپلې برخې وروستی توکی یعنې مرګ راوړي اوژوند ترې اخلي٠

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپین او برگ

له هغې ورځې راپه دې خواچې مادې غم لړلې نرۍ ته سترګې غړولي؛ښی اوکیڼ لاس مې پېژندلی؛د ښواوبدوپه توپیرپوهېدلی یم؛دګناه اوثواب احساس راسره پیداشوی٠دسپین اوبرګ جګړه ګورم٠

دواړه جګړه ماران دزړه پرسترګووینم ،چې یو لکه هېنداره تک سپین دی،دستوري په څېر پرقېږي او دځراغ په شان رڼاکوي،خوبل لکه پړانګ برګ برګ دی،دمږک په څېربده بڼه لري او پرېبلا بېلو بڼوله سپین سره جنګېږي٠

سپین لکه رښتینی افغان نه تسلیمېدونکی دریغ لري٠دخپل مخالف پر وړاندې خپل سر نه ټیټوي٠هغه غواړي،چې خپله سپېڅلتیا وساتي او خپله سپینه لمن له برګ نه پراغېزمندۍ برګه نه کړي،خودبرګ سترګې دهغه پړکېدا اوځلېدا ته نه غړېږي،دهغه روڼتیا نه شي زغملی؛هغه هڅه کوي چې سپین ترخپل اغېزلاندې راولي،دځان په ډول یې رنګ کړي، اویایې له هغه ملک څخه وباسي چې دوی دواړه په کې اوسېږي٠

برګ پرسپین داسې یرغلونه کوي لکه پر افغان ولس چې هخامنشیانو، هندوانو، سکندرمقدوني، ظهیرالدین بابر، چنګېز، انګرېز،او روس ترسره کړي دي٠هغه دسپین دسر ټیټی له پاره له هرراز زوراو هر ډول توکیوڅخه کاراخلي،خوسپین لکه واورین غر ورته تک سپین په مخکې ولاړدی اوپه کلکه دخپل ځان ساتنه کوي٠

دغه جګړه له هغې ورځې راپه دې خوا روانه ده چې مادې غم لړلې نرۍکې سترګې غړولي،ښی او کیڼ لاس مې پېژندلی،دښواوبدو په توپیر پوهېدلی یم،دګناه اوثواب احساس را سره پیداشوی٠

زه یـــې دزړه پرسترګـــو وینـــم،پرون هـــــم دغه جګړه روانه وه، نن هم دغه جګړه روانه ده اوسبابه هم دغه جګړه روانه وي دانه پاییدونکې ( نه ختمېدونکې ) جګړه ده٠ زه باور لرم،چې دغه جګړه به ترهغې ورځې روانه وي؛ترڅو،چې زه له دې غملړلې نرۍ څخه سترګې پټې کړم٠هو!کله، چې زه له دې غملړلې نرۍ څخه سترګې پټې کړم،نودغه جګړه به هم پای ته ورسېږي ځکه چې دازمایه زړه کې زمادایمان اونفسجګړه ده٠

{دوشنبه ، دزمري ۱۹- ۱۳۸۳ لمریزهـ- کچه ګړۍ – پېښور}

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مرام

خدای خبر چې بلبل به له څه وخت راهسې تږی و؛ خوارکي هڅه کوله چې دګلاب په زرین کنډولي کې دسپینو پرخو پر سپینو شېدوخپله وچه ژبه لمده کړي اودخپلې وچې مرۍ وچه شپېلۍ دخوږوخوږو نغموله پاره غوړه اوتازه کاندي٠پرهمدې هیله دچنارله لوړې څانګې راښکته شواودګلبوټي پرسر یې دوره ووهله،خو دګلاب زرین کنډولي ته داغزیو څارونکي ولاړو٠

نه پوهېده چې څه وکړي،دواړو خوانه ورته خپل مرګ سترګکونه وهل٠له یولوري پرې تندې مرګوني بریدونه کول اوله بل پلوه ورته داغزیو تورو اونېزو دمرګ زېری ورکاوه٠له ډېرې تندې دبلبل خوارکي خوله خلاصه کېدله،خو د اغزیو له بېړنۍ مړینې ورته دتندې وژنه لږ لرې ښکارېده٠ بېرته دچناردنګې څانګې ته وروالوته؛په سوو ناروېې پېل وکړ،مرۍ یې نوره هم وچه شوه،تنده یې زیاته شوه،بیایې دګلاب پرزرین کنډولي غوټه ووهله،خوبیایې هم ولیدل چې د ګلاب زرین کنډولي ته داغزیو بې شمېره ساتونکي ناست دي٠ څودورې یې ووهلې،له ستریایې خوله خلاصه پاتې شوه،خوژبه یې لمده نه شوه٠

بیاخپل دمه ځای ته ورغی دچنار په څانګه کښېناستهٔ،وزرونه یې ځوړند شول ،ژبه یې راووته خو دپرخو سپینوشېدوته یې نیم زړه نه و٠زړه نازړه یې بیا دګلاب دزرین کنډولي پرلور وزرونه وټپول خوداځل هم ورته ګلبڼ کربلا اوګلبوټی د اغزیو غشي په لاس ((یزید)) وبرېښېده٠غوښتل یې بېرته دچنارهسکې څانګې ته ورشي،خودزړه زورېې تمام شوی و؛ونه توانېده،چې لوړښاخ ته ځان ورسوي؛نو په هغه ټیټه څانګه کښېناسته،چې دګلبوټي سرته غځېدلې وه٠ورو،ورودڅانګې سرته ورغی،دګلاب زرین کنډولي ته یې سرځوړندنېولی و،چې پرتګې اوسترې بلبل له تندې اوستړیاسره خوب هم برید وکړ٠سترګې یې پټې شوې،پښې یې سستې شوې او دچنارله څانګې لاندې پرګلبوټي راپرېووت٠ټټر یې داغزیوپه تېرو غشوټپي شو،خوخپل مرام ته ورسېده٠

دزمري ۲۹مه ۱۳۸۳

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پتنګ او مېرې

د پتنګ پرشمعې سوی وجودزمونږ پرهغه بام چې مونږ به پرې دشپې ناسته اوملاسته کوله دخلکوله نظره داسې ګوښه پروت و لکه په دین او وطن مین غازي چې داسلام اوخاوړې له دښمنانو سره په جګړه کې شهید کړای شوی وي اوصورت یې په داسې ځای کې پاتې وي ، چې نه ترې خپل غازیان ملګري خبروي اونه ترې نور مسلمانان،چې په درناوي یې خاوروته وسپاري۰

مادسباناري پروخت هغه ولید،چې یوتک سور مېږی ترې لکه سور لېوه راتاوو۰هڅه یې کوله،چې خپلې خونې ته یې یوسي اوهلته یې ښه په کراره، کراره وشپېلوي۰په همدې هیله به یې کله په خپل ځان پسې داسې راکاږه لکه روغ موټر چې په وران موټر کې پړی اچولی وي اوپرځان پسې یې راکاږي اوکله به یې شاته خپل تندی لکه دټیکټر ښاخې وراړم کړ۰

دمېږي کور له بامه دیوې لوښتې پراندازې لوړپه ((سینه پناه)) دېوال کې وه۰په ډېروستونزویې دپتنګ مړی تردېواله ورساوه،خوکله به یې چې پر دېواله ددوه ګوتوپراندازې پورته کړ؛نودپتنګ له مړصورت سره به خپله هم لاندې راپرېووت۰بیابه یې هڅه وکړه،خوهره هڅه به یې ترلومړي ځل نیمګړې وه۰

څوځله پورته شو،خوکله به هغه لاندې اودپتنګ مړی به پرې دپاسه راپرېووت اوکله به دپتنګ خوارکي مړی لاندې اودی به پرې دپاسه شو۰

ډېرکوښښ یې وکړ،خوونه توانېد،چې دغه کباب شوی پتنګ خپل کورته ورسوي۰یوه شېبه ورنه تاو راتاوشو،خوښایي پوهېدلی به وي،چې ((په یوګل نه پسرلی کېږي )) ځکه،خو دنورو مېږیانولارې ته ورغی،له هغوی سره خوله پرخوله شو اوله ځان سره یې مله کړل۰دهغوی پرملتیا ، ملګرتیا اومرسته یې وکړای شول چې په اسانۍ سره دپتنګ جنازه پورته کړي۰

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پخه خبره

بهلول له ښاره په پنځلس افغانۍ دانګوروبوټي راوړ،په باغچه کې یې کښېنولو،دوني وچه خاده (ځانګه) یې ورته په ځمکه کې ښخه کړه اوتاک یې پرې وروخېژا وه۰

تاک دښې پالنې اوځارنې پرسبب ډېر ژر وده وکړه اوبنجخه (ځانګه )یې په خپلو شنو پاڼوکې داسې وپوښله لکه کلیواله پېغله چې په شنه لوپټه کې نغښتلې ولاړه وي۰

بهلول بله غټه خمبه (ځانګه )هم ورته ودروله اود تاک ځانګې یې پربنجخې پورې پر زړو ټوټوداسې غوټه کړې لکه ډاکټرچې دچاله ژوبلو ګوتوسپین سان تاوکړې۰

تاک لکه نازولی ماشوم هره ورځ موټی موټی لویېده۰لږه موده کې پرغټې خادې هم لکه کېږدۍ ورکوډۍ شو۰

بهلول داځل ورته لویه څېره ووهله اوتاک یې پرې وروخېژاوه۰

تاک دوخت پرتېرېدو پرټوله څېره لکه شین بخمل وغوړېده۰څه موده پرې دښامار په څېر پروت و،چې دبادطوفاني څپې څېره دټغر په شان پر ځمکې هواره کړه۰

بهلول دڅېرې پرلیدلو یوه شېبه سرځوړند نېولی و،خوله لرځنډوروسته یې لستوڼې راونغاړل اود تاک په پورته کولو یې پېل وکړ۰غوښتل یې تاک ببخي له څېرې رابېل کړي اوداځل ورته ښه کلکه څېره جوړه کړي،خوتاک د(( ژورې *)) په شان په څېرې خوله ښخه کړې وه۰دڅېرې اوتاک بېلول سم لکه دنوک اوورۍ بېلول و۰

بهلول پرپوره پام لکه له ځاروي،چې ځرمن وباسي دتاک ځانګې دڅېرې له خادو څخه بېلې کړې او ژوره یوډول وینه څښوونکې نرۍ ژوندی،چې په اوبو کې ژوند کوي اوږه یې ترې لاندې کړه، چې له څېرې یې لرېبله خوا واړوي، خودوه درې قدمه یې اخستې نه وه،چې پښه یې په ښاخ کې ونښته اوله تاک سره پرڅېره ور پریوتو؛وچ خنډیې په لاس کې ورننوت؛ژرراپورته شو،تاک ته یې کلکه لغته ورکړه اوپه غصه یې ورته وویل:-((بې ننګه بوټیه! ټول عمردې دنورو پر اوږې تېرکړ،خو یوه شېبه پرخپلو پښودرېدلی نه شې،چا رښتیا ویلي )) :-

))چـــې تکیــه د چا پر بل وي

پــه پوکي یې پرځېدل وي((

{شهزاده "شیرین زوی" ننګ جریده: دویم کال،لومړۍ ګڼه، پرلپسې پنځمه ګڼه،۱۳۸۳ ل،لړم}

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپېڅلې جګړه

زه پوهېدم چې ددغې جګړې پایله دهغې په ګټه ده،ځکه چې زه تش لاسی وم اوهغه په ښووسلو سمبال وه؛دوریځولینده اودبڼوغشي یې درلودل؛د نظر بمونواودخندا تندرونویې دزړونو ماڼۍ لړځولې،د شونډوسکروټویې وریتول کول اودمخ ((شعاع))،خوېې داوسپنوزړونه هم اوبه کولی شو٠

مانه غوښتل،چې له هغې سره دسترګوجنګ وکړم،خولېوني زړه مې دامیدونولښکردهغې پرلور کومنده کړ٠

غوښتل یې دهغې دزړه سیمه ونیسي اوزماد مینې له پاره په کې جونګړه جوړه کړي،خوله بده مرغه چې لښکرله سختې ماتې سره مخ شواودزړه په پاچاهۍ مې غمونواودردونوبریدوکړ٠نړدې و، چې دزړه پاچاهي مې ورانه کړي،خودوژل شویو سربازانو زامن چې ارمانونه نومېدل،راپورته شول داسوېلیو اوآهونو پر وسلې یې پاچاهي له ورانېدو څخه وژغورله،خوجګړه لا لکه دافغانانو خپل منځي جګړه له بې ساري تاوانه ډکه روا نه وه٠بې شماره امیدونه مې لکه دګلاب ګلونه ورژېدل٠دزړه ماڼۍ مې لکه زلزلې وهلی دیوال ودرځېده اودګرېوان تڼۍ مې د لېونتوب داړه مارانو چورکړې٠

دجګړې ټول تاوانونه زماپر برخه وه؛دهغې یوه ذره زیان هم ونه شو؛مازې څوجنګي اسیران ترې پاتې دي،چې دبشري حقوقو تربریده یې هم ښه ساتم؛دزړه غوښې اووینې دډوډۍ اواوبو پرځای ورکوم،خوجګړه هغه وخت پای ته ورسېدله،چې هغې دخپلې کوژدې پردسمال دجنګ بندۍ غږ پورته کړ٠په غږکې یې دبندیانوغوښتنه هم نغښتې وه٠اوس زه نه پوهېږم،چې بندیان یې وروسپارم او که نه ؟

له هغې سره زما یو بندي هم نه شته، چې پر دغو بندیانو یې تبادله کړم؛ ماته دهغې زړه ښه معلوم دی، خو که د هغې اسیران هم ورونه سپارم، نو د زړه خونه مې داسې درځېدلې،چې په پوکي یې هم د نړېدلوامکان شته؛هسې نه چې دغه خونه ولوېږي اوخدای مه کړه دهغې اسیران یادونه په کې ژوبل شي٠

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ته هم لمر يې!

په دې خبره کې هېڅ شک نه شته، د لمر مقام ډېر لوړ دی، وړانګې يې پر ټوله نړۍ خورې دي، هر ژوندی يې رڼا ته اړدی، د ځمکې له مخ نه رنځونه ختموي اونباتاتوته رنګ اوخوندوربخښي٠که لمر نه وای مونږبه خپل ځانونه هم نه وای پېژندلي؛نړۍ به قبرته ورته توره تياره وای٠همدغه لمردی چې د وړانګوپرغشوتوره شپه ولي اودتورې تيارې جنازې ته اوږه ورکوي٠دلمر زرينې وړانګې ترسرو زروهم ډېرې ارزښتناکې دي٠

په دې کې هېڅ شک نه شته،دلمرمقام ډېرلوړ دی اومونږ ټول يې په ورتيااوارتياپوهېږو،خو ستاينه يې نه کوو٠

زه نه وايم چې ته به لمرنه يې٠ته به هم لمرېې، ټول ارزښتونه اوصفتونه به دې دلمروي؛دشهرت وړانګې به دې پرټوله نړۍ خورې وي،دعلم رڼا ته به دې هرڅوک اړوي اودناروغيوپردرملنه به هم پوهېږې،نباتاتوته به پرخپل هنر رنګ اوخوندهم ورکولی شې،دمخ رڼابه دې تيارې رڼوي،ستا ارزښت به ترسرو زرو ډېر وي هو! ته به انسانانو ته انسانيت هم وربښودلی شې٠

زه نه وايم چې ته به لمر نه يې٠ستا ټول ارزښتونه اوصفتونه به دلمر وي،خوته هم لکه لمرله چانه خپله ستاينه مه غواړه٠په خپل غوره مقام دهغه ښتن شکراداکره چاچې تاته دغه برخه دربخښلې٠ هسې نه،چې هغه تادناشکرۍ له مخې دتورې شپې په غېږه کې ورک کړي اوهغه څوک چې تاته هېڅ نه ښکاري هغوی به لکه ستوري وځلوي٠

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غونډل که غښه

لرې لرې دتوروغرونو پرتورواوښانو دژمي سپينې واورې باروې،خودژمي موسم دوه مياشتې مخکې کډه وړې وه٠دپسرلي پسته،پسته وږمه داسې لګېده لکه له زيارکښ نه چې خپله مينه پر خپلو ورېښمينو زلفوپه مينه،مينه دمزدورۍ ګردونه څنډي٠سپوږمۍ هم لکه ښاري پېغله خپل ټول مخ دورېځوله حجابه راکښلی و٠

مونږڅوخواږه ملګري دخپل کورترڅنګ دخوړپر سپينواوپستوشګو دپسرلي هوا اودسپوږمۍ رڼاته ناست وو٠تېرماسخوتن و،ښکلی ادبي بنډارمو جوړکړی و؛داسې بنډارلکه عاشق اومعشوقې چې دسپوږمۍ رڼاهم پرې اېښې وي اوددېوال سيوري ته يې دخپلو زړونوکتابونه يوبل ته پاڼه ،پاڼه غوړولي وي٠ مونږهم دخپلو زړونوکتابونه يوبل ته پرانستي وه٠دژوندښې اوبدې خاطرې موسره لوستلې ٠کله به دغمونواودردونوجهان ته ورننوتو اوکله به مود خوشحالۍ اونېکمرغۍ په نړۍ کې سترګې وغړولې چابه دتېروخت پرتېرېدودخوښۍ احساس کاوه او چابه هماغه ناداني اوسادګي پاچايي ګڼله٠شپه چې څومره پخېده هومره مودزړه خواله خوږېدله٠دملګروله زړونونه لکه ستوري سپينې اوښکلې خبرې راوتلې٠مونږه هريوه به دبل له سپينواوخوږوخبروداسې خونداخيسته لکه د قاف ښاپېرۍ چې دسپينو زرو په جام کې خواږه شات راکوي٠يوه به چې وويل:-((ځئ چې څونيمه شپه شوه)) بل به پرې غږکړ:-((کښېنه ياره داسې شپه کله کله راځي ))٠د يوه هم زړه نه کېده چې خواږه ياران، خوږې خبرې،دپسرلي مسته هوااود سپوږمۍ زړه راښکونکې رڼاپرېږدي اولکه مارد خپلې خونې په سوړه ورننوځي،خو زمونږ دغه خواږه بنډارته دپای ټکی څکه کېښودل شو،چې ناڅاپه زمونږ يو ملګري خپله څپلۍ دځمکې پرلور وروتوغوله٠غرب شو،داسې غرب،چې زمونږ د خيال ماڼۍ يې لکه(( پنډګون )) څښتن تعالی ته په سجده کړه٠ زمونږ ټولو سترګې دهغه پرلور ورواوښتې٠ هغه بېرته خپله څپلۍ پورته کړه،پرڅپلۍ ويشتل شوي ځای ته يې وکتل،اوړې يې پورته پورته واچولې اوله ځانه سره وبنګېده:-((مورمې پرې بوره کړه))زمونږبل ملګری له خپله ځايه ورپورته شو، سترګې يې دځمکې پرلور واچولې اوويې پوښتل:-((څه شی و؟))٠هغه ځواب ورکړ:-((غونډل و،مړمې کړ،داوګوره، دغه دی))٠مونږټول پروژل شوي توکي ورټول شوو٠احمدشاه هغه له ځمکې څخه پورته کړ،په ګوتوکې يې واړاوه راواړاوه اوپه غصه يې عبدالسلام ته ووېل:- ((کښېنه خوارمه شې،زمونږه خوږ بنډاردې راوران کړ،لړفکر ښه دی،دظالم غونډل پر ځای دې مظلومې غښې ته سزاورکړه٠ دزمري ٢-١٣٨٣

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستر راز

ورځ په تلوکې وه اوداسمان پرخړې لمن یې د ماښام په تورې سیاهۍ داسې کرښې کښلې وې، چې چادورځې پای اوچادشپې پېل ګڼلې٠

کرښې دلوستلوله پلوه دومره ساده اورواني وې، چې لوستي،خولاڅه چې نالوستي پرې هم پوهېدلای شول،خوخلک دماداياتوپه لټه کې داسې بوخت شوي و،چې دکرښوپرلوستلوپې سرونه نه خوږول، يوازې سرليک به يې دورځې دپای اودشپې د پېل په نوم نوماوه ٠

ليکوال دخپل هغه مسوليت پراساس،چې دولس سترګې اودحالا تو ژباړن ګڼل کېدو دتصورسترګې (عينکې )پرسترګوکړې اوکرښوته ځيرشو٠دکرښو سرليک چې خلکو دورځې پای اودشپې پېل ګاڼه، هغه انسانانوته دورځې پيغام وه٠ورځې ترهمدې

سرليک لاندې کښلی وه-:

))زه درنه ځم او تاسې پرلوی الله ( ج ) سپارم،خوپه تلو تلو کې غواړم ،چې تاسو دڅښتن تعالی د قدرت پريوستر راز پوه کړم؛هغه دا،چې تاسې کوم وختونه دورځې اوشپې په نومونو نومولي په حقيقت کې هغه دڅښتن تعالی دځواک داسې زنځيردی،چې يوه کړۍ يې دپولادواوبله يې د الماسوده٠څښتن تعالی ددغه زنځيريوسرپريواو بل سر پربل توکي پورې تړلی دی٠يوتوکی لکه روغ موټرپرمخ روان دی اوبل توکی لکه وران موټر پر همدې زنځير راکاږي٠ددغه زنځيرپولادي کړۍ چې تاسوته مخامخ شي،نوتاسويې شپه بولئ او چې هغه ستاسوله نظره تېره شي اوسپينه الماسي کړۍ تاسوته مخامخ شي،نو هغه ورځ ګڼئ،خودا داسې نه ده٠دڅښتن تعالی دغه اوږد زنځيرچې پر هرې کړۍ يې دولس ساعته مزل کېدای شي؛تاسې يې ديوې ورځې اويوې شپې پرنومونو پېژنئ،خودا په حقيقت کې هغه زنځيردی چې يوتوکی يې له آدمه ع ترقيامته پر مخ روان دی،اوبل به ترهغې پورې راکاږي؛ترڅو،چې يې ستاسومخ ته راوړي٠د دواړو توکو نومونه له ځلوروتوروځنې جوړېږي٠ توپير يې په خپلوکې دادی،چې ديودپای توری دتللوپرمعنی ولاړدی اودبل لومړی توری دراتللوپر معنی ولاړاودپای توري يې له راتللو وروسته دتل پاتې کېدلوپه غرض پروت دی٠دواړه توکي څښتن تعالی دخپل ځواک پرهمدغه زنځيرتړلي،چې يوه کړۍ يې پولادي ( شپه )ده اوبله يې الماسي( ورځ ) ده٠

پوهېږئ!د همدغې ورځې اوشپې دزنځيرپريوسر پورې دنيا تړلې،چې تلونکې اوفناکېدونکې ده او پربل سر پورې يې اخرت،چې راتلونکی اوتلپاتې کېدونکی دی))٠

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتانه ورونه

ډېرځل مې دجمعې رخصتي هم له کورنه بهر تېرېده؛یابه دکوم رنځورپوښتنې ته تلم اویابه دکوم یاراودوست لیدلوته۰

یوه جمعه چې نه کوم کارراپرغاړې و اونه مې چېرته دتللوتکل درلوده؛له ځان سره مې پرېکړه وکړه،چې نن ورځ به په داسې خوب تېروم،چې د ټولې اونۍ دبې خوبۍ تشه پرې ډکه شي۰

له سباناري وروسته پرخپلې بسترې ځملاستم؛ سترګې مې لاسره نه وې ورغلې،چې په انګړکې شورشو،وارخطاورپورته شوم۰انګړته ور ووتم،ګورم چې دواړه زامن مې په خپلوکې لاس او ګرېوان دي۰ زماپرلیدودواړه داسې غلي ودرېدل لکه هېڅ یې چې نه وي کړي،خوپرختېاواوخاوروککړوجامو یې دعمل ځرګندونه کوله۰

مادواړو پسې له ونې شنه لښته راغوڅه کړه،خو سپین سرې مورمې مخ ته ودرېده،لښته یې رانه واخسته اوخپل لمسیان یې له وهلو وژغورل،خوپر دواړویې غوږونه ونېول،توبه یې پرې وکښله۰ماهم ورته یوکتاب خبرې وکړې اونوربېرته پرخپلې بسترې ځملاستم۰

خواږه خوب وړی وم،چې بیامې دمورغږترغوږه شو:-((هلئ الکول راوړئ ))۰دغږله اورېدوسره سم مې دخوب مرغه والوت ؛په بیړه ورپورته شوم،انګړ ته ورووتم،ګورم چې یوولس کلن زوی مې په انګړ کې لکه دکمونستانو رپی( بیرغ ) په وینوتک سور ولاړدی او مورمې ورته پرټپي شوي ځای په الکولو لوندمالوچ موښي۰

ما غوښتل چې ډاکټر ته یې ورولم، خو ومې لید، چې زخم د ګنډلونه و۰ ډاکټرته له وروستوتېرشوم او د پېښې پرهکله مې پلټنه پیل کړه۰

پېښه بیاهم ددواړو ورونو ترمنځ پېښه شوې وه۰

دبرېښنامزی مې راواخیست اوپرنهه کلن زوی مې دوهلو پیل وکړ۰

مورمې پرخپلولمسیانوډېره مهربانه وه۰هغې هڅه کوله چې خپل لمسي له وهلو وژغوري،ځوځله یې وویل:- ((زویه بس یې دی،مړدې کړو،پر وهلو نه سمېږي ))،خوزه داسې وم لکه خوب مې چې سرته ختلی وي؛وارپه وار مې غوصه زیاتېده۰

مورمې دخپل لمسي کړیکو ودردوله اوپه قهرجنه لهجه یې په انګړکې ولاړې ونې ته لاس ونېوه اوویې ویل:-((که ددې ونې ټولې لښتې پرې ماتې کړې،خو چې الله ( ج )یې سم نه کړي پروهلو به یې پر لارنه کړې ))۰

هغې غوښتل چې ماشوم زما له منګولو خلاص کړي او ما غوښتل چې دومره یې ووهوم، چې تــرځــو ژوندی وي بیاله خپل ورورسره جنګ ونه کړي۰

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعقل مرغه مې داسې دسرله پنجرې الوتی و،چې دموردې وینا ته ،چې:-((زویه پروهلو نه سمېږي )) مادزه یې سموم ځواب ورکولو۰دې کې دکورنۍ نوروغړوماشوم زماله منګول نه لکه باز والوځاوه۰

ماشوم منډه کړه دانګړدروازې ته ورغی اوله هماغه ځایه یې پرخپل ورور ورغبرکړ:-((ای شوروي والله ( ج )که رانه خلاص شې،زه پښتون یم،پښتون ملامت ته وې اووهل ماوخوړل ))۰

ما چې دخپل زوی دغه ویناواورېده، نود خوشحال خان "ختټک"دې انځورته فکر وېوړم، چې :- ((که هر څو یې سمومه نه سمېږي پښتانه دي دکږوکاږودېـــوال))

}شهزاده"شیرین زوی"ورځ مجله: پنځم کال ،دربیمه ګڼه ۱۳۸۳ ل هـ - لېندی اومرغومی،پرله پسې ۲۹ ګڼه{

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شک

نه مې غوښتل چې ددرواغجن تور پرې ولګوم ځکه،چې له يوې خوا ګومان دايمان زيان دی اوله بل پلوه دهغه پرمخ سپينو ږکو(سپينې ږيرې )اوبېوسۍ دا اجازه نه راکوله،چې خبروته يې دشک پر سترګه وګورم،خودسپين ږيري غټې،غټې خبرې مې هم د زړه په نړۍ کې نه ځايېدې کله به مې له ځان سره ووېل راځه پرې غږکړه،چې پرېږده باباډګورپرغاړه ولاړېې او دومره درواغ وايې اوکله به مې په زړه کې راغلل پرېږده يې چې نورڅه بوس بادوي ٠

زه پرهمدغه ذهني شخړه اخته ورته سرته ولاړوم او بوډا دېوال ته ډډه وهلې وه،نيمچه ځوانان ترې تاوشوي و،هغه دلمرله پيتاوي اوځوانانو دهغه له تودې مرکې اوغټو غټو خبرو څخه خونداخسته ٠

سپين ږيرى يوه شېبه غلى شو،سرېې دځمکې لور ته ځوړندنېولی و،چې يوهلک پرې غږکړ:-(( ښه بابا بياڅه وشول !؟)) هغه لږسرنېغ کړهلک ته يې وروکتل اوويې ويل:-((بچيه !پرهغې شپې مې کم نه کم شل پنځه ويشت بلاګانې ووژلې،ډېرخوشحاله دخپل کاله پرلور روان وم،چې د زمريانو يوه ډله رانه راتاوه شوه))٠

بوډا دهمدې خبرې له کولوسره بياغلى شواود ځمکې پر مخ يې دکرښوکښل پېل کړل،خوهلکانو بياهم چوپتياته پرې نه ښودو٠يوه پرې غږکړ:-((باباله زمريانودې ځنګه ځان خلاص کړ؟))٠

سپين ږيري،ږيره موټې کړه اوخوله يې پرانسته:-((بچيه! عجيبه وخت و تورې ته مې لاس کړ اوپر زمريانومې بريد وکړ،پرهرګوزاربه مې ديوه سرله تنې بېلولوکله چې ډېر سترى شوم اوومې ليدل،چې ډلې ډلې زمريان له هرلوري نه راروان دي،نوپه هواشوم لاسونه مې لکه وزرونه خوځول اوپر سر يې ګرځېدم ))٠

دسپين ږيري خبره لاپوره شوې نه وه،چې زمادزړه پوکانۍ راوپرسېده اوپرې ورغږمې کړو:-((بابا په خوب کې!؟))٠

هغه په داسې حال کې چې سترګې يې دارمان پر اوښکو نمجنې وې پورته په ځنګ راوکتل اوويې ويل:- ((هو بچيه، خو دځوانۍ په خوب کې ))٠

{شهزاده"شيرين زوى "لمن مجله: لومړى کال - لومړۍ ګڼه - زمرى - تله -۱۳۸۴ لمريز هجري}

Download from: ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library